د زده کولو او بنو دلو د حلقو جدول

# د میلمه دري حقونه

14 اگست، 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا یادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې **د میلمنو درې حقونه** پهٔ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د د بانګې د بانګ اوریدو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي۔ پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** څوک چې پهٔ ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک ولولي الله پاک د هغه د پاره یو قِیراط اَجر لیکي او یو قِیراط د اُحُد د غر همره دے۔ (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ؟؟؟ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## د میلمه درې حقونه

## آیت مبارک

په قرآنِ کریم کښې بیان شوي دي چې یو ځل یو څو فرښتې په انساني شکل کښې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام له راغلې، هغوئې عَلَيْهِ السَّلَام هغه میلمانه اوګڼل او د هغوئې په میلمستیا کښې یـې تلوار اوکړو، ارشاد کیږي:

1...مصنف عبد الرزاق، کتاب الطهارة، باب ما یذهب الوضوء من الخطایا، جلد: 1، صفحه: 40، حدیث: 153۔

| | |
|---|---|
| فَرَاغَ اِلٰۤى اَهۡلِهٖ فَجَآءَ بِعِجۡلٍ سَمِيۡنٍۙ﴿۲۶﴾ (پارہ:26، سورۃالذّٰرِیٰت:26) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: بیا اِبراهیم د خپل کور کسانو طرف ته لاړلو نو یو څورب سخے یې [پوخ کړے] راوړلو۔ |

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې د میلمه میلمستیا کول سُنَّت دي، اګر که هُغه (میلمه) نهٔ پیژني۔ (1)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

چا چې ❀ نـمونځ قائم کړو ❀ زکوٰة یـې ادا کړو ❀ حج یـې ادا کړو ❀ د رمضان روژې یـې ونیولې او ❀ د میلمه میلمستیا یـې وکړه هغه به جنَّت ته داخلیږي۔ (2)

## د میلمنو درې حقونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څوک چې زمونږ سره د میلاؤیدو د پاره د بَل ښار نه راشي هغه میلمه دے، څوک چې د خپلې محلې یا ښار نه زمونږ سره د میلاؤیدو پهٔ نیت د څهٔ وخت د پاره راشي هغه میلمه نهٔ بلکې ملاقات کوونکے دے او کوم کَس چې د خپل څهٔ کار د پاره راشي مثلاً ❀ څوک د خپلو مسئلو پهٔ باره کښې د مشورې اخستو د پاره راغلو ❀ د یو عالِمِ دِین نه د مسئلې د پوښتنې د پاره راغلو هغه میلمه نهٔ دے۔ (3) اِسلام مونږ ته د میلمه د حقونو ادا کولو تعلیم راکړے دے، راځئ چې د میلمنو یو څو حقونه زده کړو۔

ورومبے حق: د میلمنو اِکرام کول

1...نور العرفان، پارہ:26، سورۂ نساء، تحت الآیت:26۔

2...شعب الایمان، باب فی اکرام الضیف، جلد:7، صفحه:93، حدیث:9593۔

3...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:54، ملخصًا۔

**وضاحت**: مثلاً د هغوئي هر کلے کول، د میلمنو سره په روڼ تندي میلاؤیدل، د خپل وَس مطابق د ښهٔ ښهٔ خوراکونو انتظام کول، د فراخه زړهٔ مظاهره کول، پهٔ ښهٔ انداز کښې ورسره خبرې کول۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې پهٔ الله او پهٔ اخرت باندې کامِل ایمان لري، هغه دې د میلمه اکرام کوي۔ [1]

**دويم حق**: میلمستیا کول

**وضاحت**: د میلمنو قدر مدار کول **میلمستیا** ده۔ کوربه له پکار دي چې د میلمه قدر مدار کښې پخپله مشغول شي، د خادمانو وغیره پهٔ ذمه دا کار نهٔ پریږدي چې دا د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام سُنَّت دي۔ [2] پهٔ وړومبی ورځ دې د میلمه د پاره د ښو ښو خوراکونو انتظام وکړے شي، بیا پهٔ دویمه ورځ چې څهٔ پهٔ اسانی سره میلاؤیږي، د دریمې ورځو پورې میلمستیا وي [3] د دې نه پس چې څهٔ میلمنو ته پیش کولے شي هغه صدقه ده۔ [4]

**دريم حق**: د رخصتولو د پاره ورسره تر دروازې پورې تلل [یعني بدرګه کول]

**وضاحت**: یعني میلمه دې پهٔ اِحترام او عزت سره رُخصت کړے شي، د هغه پهٔ سامانو پیک کولو او د هغه د سامان پهٔ اوچتولو او تر سټیشن پورې پهٔ رسولو کښې دې د هغه مدد وکړے شي، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: سُنَّت دا دي چې انسان د خپل میلمه

---

1…بخاری، کتاب الادب، باب اکرام الضف، صفحه:1522، حدیث:6135۔

2… بهارِ شریعت، جلد:3، حصه:3، صفحه:394۔

3…مرآة المناجیح، جلد:6، صفحه:52، ملخصًا۔

4…فیض القدیر، جلد:4، صفحه:342، تحت الحدیث:5236۔

سره تر دروازې پورې لاړ شي۔ (1)

## دوهرائي

نن مونږه د میلمستیا درې حقونه زده کړل ، پهٔ ذِهن کښې یې کښېنوئ: (1): د میلمه اِکرام کول (2): د میلمه میلمستیا کول (3): د میلمه سره تر دروازې پورې تلل۔

## د ښودلو او زده کولو پهٔ حلقو کښې یادولو والا دُعا

## د بانګې د بانګ کولو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا

اَللّٰھُمَّ اِنِّیْۤ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

**ترجمه:** اے الله پاکه! زهٔ ستا نه ستا د فضل سوال کووم۔ (2)

بانګې د رحمت د فرښتے پهٔ لیدو بانګ کوي، د ځغه وخت پهٔ دُعا باندې د فرښتے د آمین وئیلو اُمید دے۔ (3)

## د اِجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د روزانه 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي؟ (2): آیا پینځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو

1...ابن ماجه، کتاب الاطعمه، باب الضیافة، صفحه:545، حدیث:3358۔

2...مدنی پنج سوره، صفحه:210۔

3...مرآة المناجیح، جلد:4، صفحه:32۔

سُوْرَةُالْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نـمونځ نه پس مو آیة الـکرسي، تسبیح فاطمه، سُوْرَةالِاخلاص لوستلے؟ (6): آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلي یا اوریدلي؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلے؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آیا د فضول نظر نه پۀ بچ کیدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آیا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدینه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آیا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا پۀ تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آیا پۀ مکـتبة الـمدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګینټو کښې کورته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو پۀ دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ږیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةِ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا

کړي؟ (36): آيا پهٔ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آيا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئيلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

❀ پهٔ ليکلو خبرې کول 12 کرته ❀ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❀ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته۔

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د

کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا غم خوري او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟